آصف بهاند

۲۰۱۷/۱۰/۲۴

# «سرې لمبې مې خوښې دي،
# خو مړه خوړلن ته نه راځم»

ځو ورځې مخکې د ډنمارک په کوپنهاګن کې له خپل يوه دوست سره مخ شوم، ډېر پريشانه و، د وجې پوښتنه مې وکړه، يوه ورسره ځوان ته يې اشاره وکړه ويل يې:

«دا زلمی مې خپلوان دی، کورنی يې په ډېر کړاو پيسې په سل رنګه خواريو پيدا او دی يې دلته را وليږه. اوس ده ځو منفي ځوابونه تر لاسه کړل او په دې موده کې بې سرنوشتی او د مهاجرت د ځانګې پوښتنو او انټريو ګانو دومره ستړی کړی دی، چې دلته يې هم له هر څه زړه تور او نا اميده شوی دی. اوس يې د بيرته ليږلو هم ورته ويلي دي، حيران يم څه وکړو او...


شير محمد بهير اسماری

ما ور ته کړل: زه هم بې ځوابه او بې وسه يم.

دوی ته مې هيڅ هم و نه ويل، خپله لاره مې ونيوله، خو زما د يو دوست (شيرمحمد بهير اسماري) هغه شعر را ياد شو چې هغه په ماسکو کې په همداسې بې سرنوشتی او تنګسه کې ليکلای و. په خيال کې د هغې مشاعرې په محفل کې کيناستم، چې ښاغلي بهير اسماري په خپل غږ کې دا شعر موږ ته اوروله و.

شعر مې د ذهن په پراخه بيديا کې يو ځل بيا داسې چغې پيل کړې چې اوښکې يې را ته جاري کړې.

دا هم د ګران دوست شير محمد بهير اسماري د شعر بشپړ متن:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

سرې لمبې مې خوښې دي، خو مړه خوړلن ته نه راځم
دا ځلي که لاړم بیا به دې وطن ته نه راځم

سترې نصیب راوستم، چې راغلم په کې ښکیل شومه
نور به دې خیشت شوي د ځلیښتو ډنډ ته نه راځم

هلته به د خپل وطن ځوزان او ازغي ښکل کړمه
خیال کې به هم هیڅ وخت د پردوګلشن ته نه راځم

دا ترخه یادونه که په یاد کې زما پاتې وي
زه به د ماسکو د ښارهم تش دیدن ته نه راځم

دا ځای که ختن او هره ونه یې د مشکو شي
زړه مې ور نه تور دی لا به دې ختن ته نه راځم

دا وار دې مسکوه رب بهیر در ځني وژغوري
بیا به ستا نا پاکې آلوده لمن ته نه راځم

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ